## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**20جوزا_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| په ۱۱ ولایتونو کې له څه باندې زرو کورنیو سره مرسته وشوه | 1 |
| یک باب مکتب در ولایت بغلان افتتاح و به بهره برداری سپرده شد | 1 |
| په فاریاب ولایت کې ۳۷۲ کورنیو سره کمک وشو | 2 |
| ۳۹ خانواده در ولایت تخار مساعدت شد | 3 |
| ننګرهار کې له سلګونو کورنیو سره مرسته وشوه | 3 |
| بیش از ۲۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود | 4 |
| په اروپايي ټاکنو کې د کېډوالۍ په اړه د فرانسې د ګوندونو دریځ | 5 |
| تاثیرات مهاجرت نخبگان؛ کتابی تازه از پنج استاد دانشگاه | 7 |
| طی دو ماه گذشته حدود ۳هزار مهاجر افغان از پاکستان برگشت کرده‌اند | 9 |
| نجات 70 مهاجر غیرقانونی در سواحل ازمیر | 10 |

# متن کامل اخبار

## په ۱۱ ولایتونو کې له څه باندې زرو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د تېرې یوې اونۍ، د غبرګولي له ۱۲ مې نېټې څخه تر ۱۷ مې نېټې په بهیر کې د مهاجرینو چارو وزارت د دویمو واحدونو له لوري په کندهار، ننګرهار، هرات، سرپل، فاریاب، بغلان، غزني، بامیان، سمنګان، بلخ او میدان وردګو ولایتونو کې یو زر او ۱۸ کورنیو سره مرسته وشوه.

په دغو کورنیو کې بېځایه شوې، راستنې شوې او همدا راز یو شمېر اړمنې کورنۍ شاملې وې، چې د دغو ولایتونو د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ادارو له خوا د یو شمېر نړیوالو مرستندویو بنسټونو په همکارۍ د خیمو، ترپالونو، د حرفوي کار او د چرګانو ساتنې د وسایلو او د شېدو وزو مرسته ورسره وشوه.

## یک باب مکتب در ولایت بغلان افتتاح و به بهره برداری سپرده شد

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت بغلان، لیسه گجرآباد در ولسوالی بغلان مرکزی به تاریخ ۱۷ جوزا با حضور مقامات محلی آن ولایت افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.**

**مکتب مذکور به صورت پخته و اساسی طی ۱۰ ماه  با مصرف ۲۴ میلیون افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در دو جریب زمین که دارای ۸ صنف میباشد اعمار گردیده  که دارای یک حلقه چاه عمیق مجهز با سیستم سولری، فضای سبز، وسایل بازی برای اطفال، تشناب ها و اتاق محافظین نیز می‌باشد.**

**ابراهیم عمری رئیس امور مهاجرین بغلان سخن رانی نموده و در مورد اعمار مکتب متذکره جزئیات  را ارایه نمود**

**عبدالرحمن حقانی والی بغلان نیز به سخن پرداخته در رابطه به ارزش علم، جایگاه مکتب در جامعه و فواید اعمار مکتب سخنان ارزشمند و مفید شان را بیان داشتند.**

## په فاریاب ولایت کې ۳۷۲ کورنیو سره کمک وشو

د وزارت ویب سایت



**د ۱۴۰۳ لمریز کال د غبرګولي میاشتي په ۱۴مه نیټه په فاریاب ولایت کې د سیلاب له امله بې ځایه شویو۳۷۲ کورنیو ته نغدی، خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشل شوې.**

**دغه کورنۍ تر دې وړاندې د یاد ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په کوهستان ولسوالۍ کې سروې شوې وې**

**هره کورنۍ ته د ډاکار، ORCDاو اغا خان موسسو له لورې یوه خیمه، ۴ داني کمپلي، د پخلنځی وسایل ، روغتیا، لمریز څراغونه او ترپالونه، د اکتیډ مؤسسې له لورې ۲۲۳۷۰ افغانۍ مرسته او د سوو مؤسسې له لورې ۳ ډوله خوراکي توکو مرسته د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې وویشل شوه.**

## ۳۹ خانواده در ولایت تخار مساعدت شد

ویب سایت وزارت

**برای ۳۹ خانواده متضرر ناشی از سیلاب در ولایت تخار، کمک غیر خوراکی بتاریخ ۱۷ جوزا توزیع شد.**

**خانواده های یاد شده در ولسوالی های رستاق، چاه آب، ینگی قله و مرکز تخار از جانب ریاست مهاجرین آن ولایت سروی وشناسایی گردیده بود.**

**کمک یاد شده شامل خیمه، گاز ، چراغ سولری ومواد حفظ الصحه از جانب موسسات داکار و آغاخان توزیع شد.**

## ننگرهار کې له سلګونو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**په ننګرهار ولایت کې د غبرګولي پر ۱۷ مه له ۵۹۸ کورنیو سره نغدي، خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل شول.**

**په دغو کورنیو کې هغه راستانه شوي شامل وو، چې وړاندې د هغه ولایت د مهاجرینو ریاست له خوا اړمن پېژندل شوي وو.**

**په دې مرسته کې له ۵۷۰ کورنیو سره ۱۰ ډوله خوراکي او غیر خوراکي توکي د SVA موسسې له لوري او ۲۸ نورو کورنیو هرې یوې ته ۲۱زره او۶۰۰ افغانۍ د ناروې د مهاجرت شورا له لوري ورکړل شوې، چې د مهاجرینو ادارې تر څارنې ووېشل شوې.**

## بیش از ۲۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۲۰۷ تن مهاجر افغان به تاریخ ۱۷ جوزا از مرز سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۴۰ خانواده شامل ۲۰۷ تن از مرز یاد شده برگشت پس از ثبت در آن آمریت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مطابق به طرز العمل از طرف امارت اسلامی نیز کمک صورت گرفته است.**

## په اروپايي ټاکنو کې د کډوالۍ په اړه د فرانسې د ګوندونو دريځ

مهاجرنيوز



**د اروپا د ټاکنو په درشل کې د فرانسې د ګوندونو ټاکنيز کمپاينونه زور اخيستی. کډوالي د دغو کمپاينونو يو له مهمو مسايلو څخه دي چې نوماندان يې په اړه خبرې کوي. د فرانسې ښي اړخي افراطي ګوندونه چې تر ډېره د کډوالۍ ضد دريځ لري وړانديز کوي چې پر پولو بايد کنټرول ډېر شي، د پناه غوښتنې دوسيې دې په دريمو هيوادونو کې و څېړل شي او د کډوالو د کښېنتيو مخه دې و نيول شي.**

**د فرانسې چپ اړخې ګوندونه بيا په خپلو ټاکنيزو کمپاينونو کې د قانوني کډوالۍ پر لارو چارو، ناقانونه کډوالو ته د اسنادو پر ورکولو، له سمندر څخه د کډوالو پر ژغورلو او نورو مسايلو ټينګار کوي.**

**ټاکل شوې چې د اروپايي پارلمان ټاکنې په فرانسه کې د جون له ۶ نه تر ۹ پورې ترسره شي.**

**د فرانسې ګوندونه په خپلو ټاکنيزو کمپاينونو کې د کډوالۍ په اړه څه دريځ لري؟ کډوال نيوز دغې مسلې ته کتنه کړې.**

**۱/د ولسمشر ګوند: د اروپايي ټولنې د کډوالۍ له تړون څخه دفاع**

**والري هاير چې د ولسمشر امانويل مکرون اړوند د رنسانس د ګوند استازيتوب کوي په خپلو ټاکنيزو کمپاينونو کې په کلکه د اروپايي ټولنې د کډوالۍ له تړون څخه دفاع کوي. دغه تړون چې له دريو کلونو خبرو اترو وروسته د روان کال د اپريل په ۱۰مه تصويب شو وړانديز کوي چې د اروپا پر پولو دې کنټرول ډېر شي او د توقيف مرکزونه دې د اروپايي پولو نه بهر جوړ شي تر**

ځو له دې لارې پناه غوښتونکي و ارزول شي او هغه پناه غوښتونکي چې د قبولي شرایط نه پوره کوي بیرته دې خپلو هیوادونو ته واستول شي.

د دغه تړون له مخې، د اروپایي ټولنې غړي هیوادونه باید د نور اروپایي هیوادونو لکه د اروپا ساحلي هیوادونو څخه کډوال و مني تر څو پر دغو هیوادونو د کډوالو فشار کم شي. هغه اروپایي هیوادونه چې دغه کډوال نه مني باید د هر کډوال په بدل کې ۲۰ زره یورو جریمه ورکړي.

میرمن والري هایر په دې بارو ده چې دغه کار د دولتونو لپاره د حل یوه عمومي لاره پیدا کوي.

خو د فرانسې چپ ګوندونه او د بشري حقونو ملاتړي بیا د کډوالی د غه تړون نه مني او د کډوالو د کورنیو او د هغوې د اولادونو د توقف په اړه اندیښنه لري.

والري هایر ټینګار کوي چې د اروپایي پولو د ښه کنترول او د کډوالو د اخراج لپاره د پوله ساتو ځواکونو شمیر دې ۳۰ زرو تنو ته لوړ شي. نوموړې غواړي چې د کډوالو له اصلي هیوادونو سره دې تړون لاسلیک شي تر څو د دوی ایستلو ته دې لاره هواره شي. هغه وایي، هغه هیوادونه چې خپل اتباع بیرته نه مني نو باید د اروپا ویزې دې ورته محدودې شي.

۲ /ښي اړخي ګوند

په فرانسه کې ښي اړخي ګوند بیا د اروپا د کډوالی او پناه غوښتنې د تړون سره سخت مخالف دی.فرانسوا اګزاویله بلامي چې د دغه ګوند د نومدانو د لیست په سر کې دی په دې باور دی چې دغه تړون په اصل کې د اروپایي ټولنې په هیوادونو کې د کډوالو د ځای پر ځای کولو په معنی دی. خو د دغه نوماند د ګوند نور ملګري بیا هغه هغه هم نظر نه دي.

د ښي اړخي ګوند د نوماندانو د لیست مشر وایي چې پر پولو د ناقانونه کډوالو د کنټرول لپاره په پام کې لري چې » په شرقي اروپا کې دیوال یا سرحدي موانع لکه پرمختللي ټکنالوژیکي وسایل او خنډونه جوړ کړي او مدیترانې ته پوځي ځواکونه واستوي. نوموړی غواړي چې د اروپایي هیوادونو په داخلي پولو کې هم کنټرول ډیر شي.

د غه فرانسوی سیاستوال غواړي چې د اروپا پر پولو د فرانټکس د پوځونو شمیر له ۱۰ زرو څخه ۳۰ زرو ته لوړ کړي او ترڅنګ یي دا هم ویلي چې د پناه غوښتنې دوسیې باید په دریمو امنو هیوادونو کې و څیړل شي او پناه غوښتونکي د انتظار پر مهال په بندو مرکزونو کې وساتل شي.

ښاغلی فرانسوا اګزاویله د هغو هیوادونو په اړه د مالي مجازاتو غوښتونکي دی چې خپل اتباع بیرته نه مني او له ناقانونه کډوالی سره مبارزه نه کوي.

۳ /د کډوال پلوه چپ اړخي ګوندونه

د فرانسې چپ اړخي ګوندونه، د سوسیال او اکولوژیست ګوندونه بیا تر ډیره له کډوالی سره د بشر دوستی په نظر ګوري.

د سوسیال ګوند مشر رافایل ګلوکسمن وایي چې په مدیترانه کې د کډوالو د » ژغورنې وظیفه» باید بیرته پیل شي او د اکولوژیست بله نومانده ماري توسن غواړي چې اروپایي ټولنې د کډوالو د ژغورنې عملیات تضمین او مالي لګښت یي ورکړي.

د دغو ګوندو پلویان په دې نظر دي چې د فرانټکس پر ځای، د کډوالو د ژغورنې یوه غیر نظامي ډله جوړه شي تر څو په سمندر او وچه کې عملیات وکړي.

رافایل ګلوکسمن اروپا ته د کډوالو پر قانوني لارو چارو تینګار کوي او غواړي چې د کډوالو ویش په اروپا کې د اقتصادي اړتیاوو پر بنسټ ترسره شي. ماري توسن بیا وایي چې اروپا ته د کډوالو د قانوني او امن لارو پر پرانیستلو غور وشي.

نور ولولئ :<u>اروپایي ټاکنې څنګه ترسره کیږي؟</u>

د اکولوژیست د ډلو دغه نوماند وایي چې په جوني اروپا کې به د کارګرو کډوالو د قانوني کیدو لپاره هلې ځلې وکړي.

۴ /د کډوالی ضد ښي اړخ افراطي ګوند

په فرانسه کې ښي اړخ افراطي ګوند تر ډیره د کډوالۍ ضد سیاستونه لري او غواړي چې د اروپا په سرحدونو کې « دوه ګوني دیوالونه» ورغول شي. د دغه ګوند د نوماندانو دلیست مشر ژوردان باردلا وایي د اروپا پر پولو د دیوالونو رغول د کډوالو د کښتیو مخنیوي او شاتک ته لاره برابروي.

د نوموړی په باور دوم دیوال د شنګن حوزې د هیوادونو په منځ کې باید ورغول شي او یوازې د اروپا وګړي له دغو دیوالو د تیریدو حق ولري.

د ښي اړخ افراطي ګوند مشر په دې نظر دی چې د پناه غوښتنې مرکزونه د مبدا هیوادونو سفارتونو کونسلګریو ته انتقال شي. دا په دې معنی ده چې د اروپا په خاروه کې به د پناه غوښتنې ثبتول غیر ممکن وي.

## تاثیرات مهاجرت نخبگان؛ کتابی تازه از پنج استاد دانشگاه

طلوع نیوز




در جریان نزدیک به سه سال گذشته، برخی از کشورها مرزهای خود را به روی نخبگان افغان باز کرده‌اند

یک کتاب پژوهشی زیر عنوان عوامل و پیامدهای مهاجرت در افغانستان از سوی شورای متخصصان هرات رونمایی شد.

این کتاب که از سوی پنج استاد دانش‌گاه و پژوهش‌گر تهیه شده، بر علت‌های مهاجرت نخبگان و فرار مغزها از کشور تمرکز دارد.

بر اساس این پژوهش، چالش‌های اقتصادی، نبود مصوونیت شغلی و مسدود ماندن مکتب‌ها و دانشگاه‌ها به روی دختران از علت‌های اصلی مهاجرت نخبگان کشور است.

محمد رفیق شهیر رییس شورای متخصصان هرات گفت: «از دست دادن یکی از نخبه‌های خود، بخصوص در این شرایط، جای آن را پر کردن زمان طولانی می‌خواهد تا ما یک داکتر، انجنیر و یا یک استاد دانشگاه تربیت کنیم و به ویژه برای جامعه عقب‌مانده و فقیر ما«.

در این کتاب به حکومت سرپرست پیشنهادهایی برای جلوگیری از فرار مغزها و مهاجرت نخبگان و افراد متخصص و همچنین فراهم ساختن زمینه بازگشت آنان به کشور ارائه شده است.

بر اساس این پژوهش، در جریان نزدیک به سه سال گذشته، شماری از کشورهای اروپایی، ایالات متحده امریکا و کانادا میزبان هزاران مهاجر افغان بوده‌اند. بیش‌تر این افغان‌های مهاجر شامل استادان دانش‌گاه، دانش‌جویان، کارشناسان و کارمندان کارفهم دولت هستند.

آگاهان امور، مهاجرت نخبگان و فرار مغزها از کشور را برای افغانستان زیان‌بار می‌دانند.

عبدالرحمان کریمی استاد دانش‌گاه و پژوهش‌گر گفت: «کشورهایی که ما گفته می‌توانیم، بی‌قاپیدند و عوامل جاذبه‌ای که ما پیش‌تر هم صحبت کردیم، نخبه‌ها در آن‌جا مهاجر شده‌اند و این برای آنان خیلی به نفع تمام شده است«.

در این پژوهش آمده است که بازگشایی مکتب‌ها و دانشگاه‌ها به روی دختران، فراهم شدن مصوونیت شغلی و حل چالش‌های اقتصادی در کشور می‌تواند زمینه بازگشت نخبگان را به افغانستان فراهم سازد.

راضیه طبیب زاده یک تن از پژوهش‌گران کتاب گفت: «رفع مشکلات اقتصادی جامعه باعث می‌شود که یک راهکار معقول برای بازگشت مهاجران به کشور تلقی شود و همچنین فراهم کردن زمینه شغلی به جوانان«.

در جریان نزدیک به سه سال گذشته، برخی از کشورها مرزهای خود را به روی نخبگان افغان باز کرده‌اند.

به گفته پژوهش‌گران این کتاب، مهاجرت نخبه‌ها و فرار مغزها برای کشور زیان‌بار است و افغانستان را وابسته به افراد متخصص و نخبه کشورهای همسایه می‌سازد

## طی دو ماه گذشته حدود ۳هزار مهاجر افغان از پاکستان برگشت کرده‌اند

آریانانیوز



طی دو ماه گذشته حدود ۳هزار خانواده‌ی مهاجر افغان در پاکستان از طریق گذرگاه تورخم به کشور برگشته اند.

**مسوولان ریاست مهاجران و عودت کنندگان ننگرهار می‌گویند که برای مهاجرین برگشت کننده از پاکستان در کمپ عمری تمام تسهیلات را فراهم ساخته اند.**

**شماری از این برگشت کننده‌ها از برخورد نادرست اردوی پاکستان شکایت می‌کنند و می‌گویند که زندگی کردن برای افغان‌ها در پاکستان دشوار شده است.**

**از سویی، برخی از مسوولان دیگر در کمپ عمری می‌گویند که مهاجرین برگشت کننده را در زمینه‌ی انتقال به ولایت‌های شان همکاری کامل می‌کنند.**

**براساس معلومات مسوولان اخراج اجباری مهاجران افغان از پاکستان هنوز هم ادامه دارد.**

**کمیساریای عالی سازمان ملل در امور پناهندگان روز شنبه (۱۲ جوزا)، گزارش هفته‌وار خود از بازگشت مهاجران از پاکستان به افغانستان را منتشر کرد.**

**در گزارش این سازمان آمده است که از آغاز سال جاری میلادی تاکنون بیش از ۹ هزار پناهنده افغان به‌گونه اختیاری به افغانستان برگشت کرده‌اند.**

**پاکستان در ماه میزان ۱۴۰۲ خورشیدی به مهاجران بدون مدرک اقامت در این کشور ضرب‌الاجل تعیین کرد که این کشور را ترک کنند.**

**اسلام‌آباد اعلام کرده که می‌خواهد همه مهاجران فاقد مدارک رسمی اقامت را از این کشور اخراج کند.**

## نجات 70 مهاجر غیرقانونی در سواحل ازمیر

صدای ترکیه

**نیروهای گارد ساحلی 70 مهاجر غیرقانونی از جمله 21 کودک را نجات دادند.**



**70مهاجر غیرقانونی از جمله 21 کودک در سواحل ازمیر نجات یافتند.**

**در اطلاعیه منتشر شده در سایت فرماندهی گارد ساحلی ترکیه آمده است، در پی دریافت گزارشی مبنی بر حضور شناورهای حامل مهاجرین غیرقانونی در سواحل کارابورون و چشمه، تیمی از نیروهای گارد ساحلی به این مناطق اعزام شد.**

**تیمها 70مهاجر غیرقانونی از جمله 21 کودک را در 4 شناور که توسط عناصر یونانی به داخل آب های سرزمینی ترکیه رانده شده بودند، نجات دادند.**

**مهاجران پس از انجام امور مربوطه به اداره مهاجرت استانی تحویل داده شدند.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*